# ورانګه

یوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وراندي
بیا پیري په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989




دکتاب نوم : وړانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

بسم الله الرحمن الرحيم

په ویاړ
د هغه ټولو مړيالو
چې د بنیادمو د ښتونو ځنی
تبځندی د پښو ځولانې او د -
لاسونو لچکونه پرې کوی او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت
ته ورجګوی او ژوند نور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي

کومه ورځ چې نوربېدی(1) شي

ځان په بنش ولې لیکه(2) کړي

چې په شتوکې اوړېدی شي

څه په سر آسمانونې یې

که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده

چې په مټ نړغونېدی شي

په خرډک(3) دې ولې سود(4) شي

چې په خېز ننبنترېدی شي

د پېړو(5) تل(6) ته ولې پلی(7)

له بریالو چې ملېدی(8) شي

د باز ادارهنر دې نه نړ ده

که نه یې چېتی بازېدی شي

لیت او لار چې د مېړه وي

فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن

۵- پېړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله، جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي

که کلیم[ع] شي کونډه دی شي

د بری لاري بند نه دي

که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میرښکارانو

که په وینه کې د خانانو کا

بیا د ختو کوکوشتان تول

الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا

رانسکوره زورجهان کا

پرېباسلی او نتلی[1]

د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې میړه خېل دی

ټینګ په ننګ او په خپل خېل[2] دي

د زمرو مارګي[3] یې ژوند دی

چې د شنو زمرو د سیل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خېل = هوډ، ۳- مارګي = ښکار.

ترې مې وینې دی سکروټې
ترې مې وینې هم رامبیل[1] دی

د خپل تنګ دي پاتې شوي
په کولنه[2] دی که په بنکېل دي

رښې خنګه بې کونډۍ[3] شي
چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبیب به دې څنګ روغ کړي
چې یې چارې د شا خېل[6] دي

چې د دروزې[7] یې تښې وي
په وینو پراته غلبېل دي

چې جامه یې کاسیري[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستۍ ده
مشرۍ که په چارخویل[11] دي

---

۱- رامبېل = یوګل، ۲- کولنه = کتخه چې دغوبې، څاروي څښتن یې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کونډۍ = کاهي ګښې - خلپل، ٤- څانګې = دري غابنې ٥- رشپېل = چې دغلې رښې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خلیل کوي یعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو دانو- تیلې ۸- کاسیرې = بد لمنې ۹- چېل = پروني ، ۱۰- انګې = یوه لوبه چې وایي انګې انګې مل دی څوک دی ،
۱۱- چارخویل = قرقره

نه د دین، نه د سا(۱) دین دي

خوار متاژه د سوئیل(۲) دي

شاید بیا خلیل زرغون کړي

"مومنان" ټول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده

لا ناپوهه پر دنیا ده

ژوند په هر اړیکي وي چې

کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام(۳) پېښې

وړې تندې باندې مېړونه

د ملخو نه کله کېږي

د باتور، د باز کارونه

ننګیالي په دار بر سېره

غوړوي خپل منبرونه

په پاڅون چې "زه یم" نه کړي

خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولې ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرګه کار چې لرو بر کړي
بلالي[۱] هغه بانګونه
چې دا ځمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګيالي دي شاه مېړونه
لکه حق يې کړو وړه وي
دننګيال په مټ، په توره
دلته ارد خښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
دننګيال دمزري زړه وي
تورځنګلونه[۲] خونديوي
حق ننګي يې غرين کړه[۳] وي
ساه يې واچوي جوش[۴] کې
له پيرو پيرو چې مړه وي
دناحق وړه[۵] بتول پره کړي
وړه هغه کړي، چې تل پڅ وي

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورځنګلي = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو
۴- جوش = تنه ، ۵- وړه = بربالي.

O

د ګېدړه په اوړو نه شي
چې په غړمب د شنو زمرو شي
په تسپو مو مسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له توتکو شي!
ننګيالي يې شي کړولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير کړولی
کله څوک بې هوډه يالو شي؟
دراسمنو چارې کله
د ناراموُ[2] په لينکو شي
دژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو تورياليو شي
دځيرکو مېړانه کله
له درست کلي د رندو شي

---

۱- منښته = زيارتونوته دورو دپاره په ځان څه منل، ۲- نارام = ناغيږ- ناراست .

چې رنځور باویړي[1] وکړي

پوچې هیلې د دارو شي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله یې سود په کوړکو شي

د ځانګو د کوچنی نمرۍ[2]

پوره څه رنګ په ځلمو شي

چې د نمر د رڼا وي وي

روڼ په شخنک په اورکو[3] شي

عقل څه خوني آتي دی

راسوړي[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سړ پوره والی

د حرمۍ په سیپارو شي

چې له مال خبره واوړي

پت په سربندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

دا سړي سړي باله شي

---

۱- باویړي = بابیړي = د ناروغی بیا تاندیدل، ۲- نمرۍ = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوړي کیدل = راګرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوښتې نه تلې صبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلې هغه چې ښېږوه[1] يې
یو د «زه یم» په پساله شي

زه یم هر کله ځلمی دی
دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي
چې دا ځمکه یو کاله[2] شي

په یولوی سین کې غرلي
چړې، چړ، لښتی، و یاله شي

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چې تړې

چې د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لارې زړې

حق به هله میشته وکا
لومړی غیر چې وشړې

یا سړی یاد خړې شه
حق ناحق ولې ولړې

---

۱- ښېږوه = ډول - ښایسته والی، ۲- کاله = کور

زېبښناکیان چې له مېنځ ورک شي

پرکېږي به شي مړي

لوی آتیان لکه اوګر(۱) کړي

د جګ غر تېرې وړې

ستور څار کو دواړه کسي

په څار لوګړل تنها کې

نري وټ یې چرته بیاموند

برد ستورو په دنیا کې

له کارونو او له ښکو

سره زر و سنګل ګېر(۲) یګرو

الوول حق و ناحق دي

څنګ تراوسه سترګورو؟

د بوذر(۳) د کندي خلق

د آذرود کندي دي

که هر څو مخ په کعبه دي

له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوګره د څارو و د خوړلو وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تنانتې، ۲- ګېرېګره ګېر ګوونکې

جوړوي د ښيښو مېنې[1]
ځيني کان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کي
چي يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده
پري له سو ختو مار کسان ژاړي
سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"
دوه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو
د صورت هسې د ورېږي
ولې "زه يم" يو توکيز[4] دی
يو توکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود ځه دئ؟
د حجرو[5] الوولتيا ده
او حجري د خاورين توکو
خپل ترمينځه انډولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته- نيشت، ٤- يو توکيز = د يو توکی نه جوړ- چي ګډونيزه نه وي، ۵- حجره = Cells- ژوندينکی.

دا خاورینه واړه توکي
د بریښنکو غوني دي
او بریښنکو ته چي ځیر شي
تشي ترقنده خپې دي

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چي جب جوب شول په خولو کي
ځارله هغو توریالیو
چي په ښېز دي سرخیړو(۱) کي
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلو کي
ساده ګوري ملغلري
خسا ډنډوکو، خرخوړو کي

---

۱- سرخیړي = سرپړه ، ۲- غوړه = تومت - ګوم والی - ملامته

دا چې ګواښ په سترو کېږي

ته هم زوره څه نېزوکې

څه ناوياته چاره وکړه

مېرنيه! په تلوتلوکې

○

ګوړيمار(1) چې د بمبل وو

هغه سر په مونډه(2) و دی

کړولي(3) چې د باز وې

په لولکو په شوغو دی

چې د بريد او د غدې وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښايسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې خښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کښېدو دی

د تيرو تورو بوُر(4) کي وُ

د بې سترګو د کنډو(5) دی

---

۱- کوړيمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړي (حلقې) د ننه کې ويشتونکی

۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تېلې خمې نه ښکته وچې کښې لوېتی، ۳- کړولي = د ښکار ځيرکولي، ښارلود پاره د باز تاويدل راتاويدل، ٤- بور = زمري، ٥ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځني نامسنده
## څه د خوشو عقیدو دی.

بازداري يو لوى هنر دى

ته په يو بښيله(1) بازداري
چې نه لري جبې
په نامه باندې ميشكاري(2)
تش غرور بازو وته ناست يې
څه كه ځوي د لوى بلا ري
ته ميرښكاره كړين غواري
په ښه بښه مرداري
يې په تومنه له و يارلو
خو په چاروكې د وياري(3)
له قرآن نه غير هذا
بې صلوة مونځ ګذاري
كله سركبوان ته كوز كړه
چې داولي دومره خواري؟

---

۱- بیله: د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- میشکار: بلزوان، ۳-ویار: شرم.

چې ټولنه قرآني وي
دا سړي به شهسړي[1] وي
دا تنزري تاروکي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پربوتي، دا انست[2] به
بیا نښتري آسماني وي
چې نومړې په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د نن شخولې[4] او کاټې[5] به
صبا توري او توبري وي
په وندوی[6] ځمکې د نن به
نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي
نه به پولې، نه بېلتون وي
نه نها، نه زمايي وي
یو آدم، یو آدمتاله[7]
په کسڼ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسړی = سترسړی، ۲- پرېوتی اِنست = بومتی دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن،
٤- شخوله = درسته، ۵- کاټی = تیکی، ٦- وندوی = داسې حلال کړی څلروی چې پکې خلقو برخې (وندوی) ملستی وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنې (ځمکه زی یا آدم زی) را ټول وی یا سره راټاله وي

آدمخوني[1] به یو کور وي
وران به کور کې کورکي وي
درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسي[2] وي
نه مري نه به څښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي
نه کاواک، نه به بې واک وي
چې الله به تولواکې وي
تولنوال به تولنوال له
رب، رحیم وي، او ولي وي
هم به یې کسب خالقي وي
هم توره[3] به یې رازقي وي
وی پاخون لکه یو تن به
یو تاله به مختکي[4] وي
له ختیځه ترلویدیځه
به یوستره ورورولي وي
په حدونود کتاب کې
به دعقل خپلمخي[5] وي

---

١- آدمخوني = ځمکه ، ٢- جسي = ورتیا = اهلیت ، ٣- توره = قانون - تره - ترلي لاره - لاره ، ٤- مختکي = مخکې تګ ، ٥- خپلمخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به

تل تر تله غرځنګي وي

یو ځای به یې به له ټولو

ټول له یوه به لوکي وي

له قبلو دې کړه ودړو

به یوه کعبه مونډې[1] وي

له زړها اوړ اوړکو به

دحرې یو رنـایي وي

سرې ټول به سره سیال وي

په فطرت[2] به یې ستروالکي وي

◯

ستا خیری درست کائنات دی

ته لاکوز په خرخشویـ[3]

پولې پولې ده لا ځمکه

خپل ترمینځه په دښنوي[4]

ژوندله تنه کړونیـز دی[5]

ته ځان ځانی به ترڅوي

---

۱- مونډه = راکښل ناوی - د غوبل د مینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر د بنیادم نړیتره نور ټول کائنات ۳- خرخښې = جنګونه، ٤- دښنه = دښمنی، ٥- کړونیز په کړه هستیدونکی.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترنن د کورکوي
یوکوړمه[1] واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلوي
دیوې حجرې زېږنده
د حجرو په بیل کلوي

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو وروولي ده
نه ملګري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلې د مرګ لاهوکا
سُر دامن کا تارونه
پدې ځمکې ـ آدمځوني
بیا برسېر کا جنتونه

---

۱ـ کوړمه ـ کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زوړ چاپېره سور الوزي
ډېر ویزاره راپرېوځي
له دې چې قند ناتاربه
هم پاخه بښتې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینکو وځي
راخوړه شي پرې دلوړو
او په خوله ځوځې ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بر دی
دعوه کېږ دکتاب کوره
د همه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = دسر قانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زر دارو په تېـرلـنې

دي ګټونکي په بايلـنې

د شته منو شته مني ده

د نيستمنو له نه بېښـنې

د مارو کوښي [1] جوړېږي

د تش بانو [2] له څـرمنې

د زردار مـاڼۍ ولاړې

د کارګر په تـڼې پـلنې

د ډک لاس [3] سپينه جامه ده

د تش لاسو په ريمـنې [4]

بده ورځ د لـولـنګرو [5]

دا زل نه دی ليکـنې

د باطل تولنه پايـي

د مذهب په سروينځنې [6]

---

۱- کوښي = پيزار، ۲- تش بامنې = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي

٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتـ

نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

وګړي ټول که آذري غواړي
څښتن له تا نه خليلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولوله
وار وختونه کليمي غواړي
په تشو تيکو که کتي کيږي
د ننګ ډګر لا شه ځلمي غواړي
وګړي ټول سر ړقوي او پايي
حق د ميړه غوندي څوندي غواړي
ښکيلاکي عمر د خاروو دي ګوري[1]
څوندي آدم به مخ کښي غواړي
د اباسين خونړي نيز او چلي[2]
د جاليوانو سرهنګي غواړي
په هسک او تل د حقيقت لټول
تل سر ببري ليوني غواړي
چي د څښتن لاره د بکولي شي هم
څوند داسي زين او هڅک سړي غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيز او چلي = سيلاب او چپي.

○

د هګ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزاد کانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکونه به پرې ناتار کړي
ګډې که توټې زمرې تـه تـهل شي
غښتلي مـتې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببري هو دیالي پا څي
په ریـږکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې څار دی
چې د حق دلاره بېل دی
په دنیا په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دوېار[2] دی

١- ریږکی = کوچنی - وړوکی - ناشی، ٢- ویار = شرم - پیغور.

چي تیغه[1] کي حق ته و لاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل "زړه" ناروزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که ګوري
ګل ورین هم تناورچار دی

په توله چي د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چي د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[2] دی

چي ناسور په مخ د ځمکي
شیخ ملي وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تپي وي
لږي بري نوري لړي

د ټولنو د لړمون به
زړيني لوږي او نهري

---

۱- تیغه = برش - کږه وږه - نقش -
۲- مخدار = رو یدار - دروند.

شي ځورلی خلقی به
بې دولیتي[1]، یوه ځري[2]
درپه درخاوري په سر به
پرکښي وي لولنګري
د هغو لوږو شور دا —
خپلو بدو له اشري
عقوبت په غرغندو شي
چې دکیا[3] وي اورد سري
تاله تګ د ادم ارزدی
په یو ورځې برابري
چې پرې دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبري[4]

○

داچې ځان خانتوره[5] بولي
داچې هرچېرته شمله دی
نیسمنان په کمنه[6] نیسی
وایي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه ځرې = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوګی کوي،
٤- مخبري = په برمخ، ٥- خانتوره = خان چې تر ل پرانستل کوي چې د توري خان وي،
٦- کمنه = کم ذات- کم اصل- کم سیال



PROPERTY OF ACKU 7990

له ازل، وا یې بربیال یو
نور په برخه شاګنده(۱) دي
دوی له مخ د خدایه رغ(۲) دی
نور له پښو یې زیږن نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د بېسمنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو سهولت نه
پړه، پرېوتې او روږه(۳) دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم‌زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې را غلی
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ ژور دی له زیښاکه
شته په نیشو(۴) آلوده(۵) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شایې لګېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روږه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ۵- الوده = ننبتی- اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرگه دي

دفرعون دکور د ننه
په پاڅون آخر موسیٰ[ع] شي
دباطلو ښامارانو ټول
تارپتار یې له امسا شي

○

عقل لیت دی، دیوکی ده
پرې قدم قدم رونبېږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توری هرکله ښروندي دي
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړو پېړو کاروونه نه مېړونه به بیا بیا کړي
شاه مېړه کړي هغه چاري چې پېړۍ پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

چې په ځان پلن[1] سوری نه شي
تول جهان په ځان راتنګ کړي

له کوڼاره چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي

هو دیالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي

له يوې بلې تېرې ته
د زړګي[2] زمري غوځنګ کړي

چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني خسنګ کړي

ننګ په حق با ندې کوونکی
لکه ځان با ندې چې ننګ کړي

رنګ له حقه ځني واخلي
بیا وریا ئې جهان رنګ کړي

کلیمان د ژوندون لاره — رب د ستر کو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لیتون کې — ترعمرو نو سر غونډ کړي

---

۱- پلن سوری = په پسانه پلن، ۲- زړګی = پر هلر ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیـــکی
د آدم له بـل آ د مـــه ؟
دغه لویه کشـــــاله ده
او دژوند لـــــویه کـړمه

○

آدم دغه قـــدر نه دی
انجړبنجړ[1] ژوندینــکی
یو موندړی[2] زه یم او ده دی
د بدلون پدې ځانده[3] کې

○

که آدم بې پو ښــه نړی
څه پیرمـخی[4] رغانه وي
په ناتار د مــرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدې ناتار کې        هم یو زه یم ، دې خوندي دی
که صورت دی یو اړتیا ده        نو دا زه یم ، دی موندي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- ځانده = هنتړ - فریم سکلیټ ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی .

○

پیرخواره[1] یې له پښنو یو سي
چې مسوندی یې وي اومړی[2]
د کچبه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه بـاد وړي

○

د آدم لـه «زه یم» پـرته
نور هر څه چې دي نور پړي
له هر زبرړی[4] د هجري نه
لکه ځان هسي راز بـرېږي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستـو لنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی روزنګړی[5] د بدلون دی
د هجرو په کنج کې اوسي او د سترګو تش الـون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې .
٤- زبرړی = هغه څه چې زیب ولاکوي، ۵- روزنګړی = روزنه کوونکی - لویونکی .

ټول فطرت يې خوري تاليزه[1]

آدم نه ي جدا جدا وړي

دځاني سود غم خوړونکی

له حق لاري پښې پېشا وړي

چي په نور و خپله ويش کړي

خپلې برخې نه سيوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه ښکلي

د ځورلو چې دعا وړي

چې له خپل ميوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لت . په هغو واوړي

---

۱- تاليزه = په جمع . تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

دژوندون په لویه لار کې
مشالونه بلول دي
د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي
کتابونه د بې ردجبل
سوزول او بدول دي
د آدم نه دې یاد کړي
د عمرونو هېرول دي
که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نیښکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بُتان دی لړول دي
په هر پل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نښکول = ورکول - په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو وړانه.

د سندان تندي به چرې کرونجې نشي
د درنده وپلکونو جوړکه پرې نانا روي

د مېړه نیستي یوځو وړې نیستي وي
نه مېړونه شاعري نیسمن او خوار وي

د رند و عقیدو خلقو کې همېش له
ښبتنان دغړېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتي[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره[2] دحق ملانو[3] خپلوي څوک
یو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بویه
که رښا يې لار لیدلو له پکار وي

درباب خواره دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له میلسه[4] دې ویزار وي

---

۱- چتي = ورکوټي مرغۍ

۲- توره = قانون - لاره - منډه

۳- حق مل = دحق ملګری

٤- میلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
ابا سین کله پښنه نیسي له غور ځنګه

چې تر ځود ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپستنه شي ځنګ له جنګه

پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کلیمو تر قلنګه

چې یې مټ د غلیمانو وي کښلی
نه ویرېږي یې تشه د ننګه د ننګه

د مردۍ توره میدان کې لا سنه کېږي
خلاصه نه وي د کاټۍ[1] توره له زنګه

پچپل زړی کې زرغون شه او سمسور شه
ځو دې نه ده لا کوټۍ[2] خاورینه رنګه

چې یې جس د تن په مور کوپه پرواوري
خود هغه ته وي کړنجې د جهان تنګه

---

۱- کاټي = تیکی - چړتون

۲- کوټۍ = د دانې کڅوړه

يو برى ديو جنګ غالى دى خوندي که
بيا په بل ميدان برېښنا او تالندي که
چې د لوى ښتن د لاسوسره ښايي
شاځلميا! ځان په داسې کاربندي که
په حجروپه جماتونوکې تورتم دى
د ديوې غوندې لنبه دې په تندي که
د ميړه د ځوى آوازله خلقو بېل وي
څوک به يې څنګه په ټولنکې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به څنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د ښاروو به څنګه وځي
چې په مينه مينه ښت ته غوروندي که
چې يې ويړ د نورو نې له چا نه وي
هغې پاڅې بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوټې ته دغـــاړې
لـه خپل تنه پلواښنه[1] شـه
د ټپانده اباسین خپـــل
لکه غاړې په ساته شه
د کړېږ سختې په ځـــان کړه
پسته باز په الوات شـه
په خپل ځان قیدونه کېږده
زرغونه شه او بیا شته شه
پولې ړاښکه، پانګې[2] کېږده
بیا په زغاښت لکه مېړه شه
د ښښتن دلارې مل شه
له ښښتن ځنې لارغه[3] شه
په ړیبلوچې ورک نه شې
په لوښنه[4] لکه واښه شـه
د ختیځ لـه الا الله -
لا اله د پړپـــواته شه

---

۱- پلواښنه = مروړي - پلکواښنه، ۲- پانګی = میړ- ډک- مرام
۳- لارغه = لرغونی - وړاندې، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان ګډ دي

هر وګړی لوی اوکړ(۱) دی

لولنګ څکه په نیش دي

درناوی چې په دوتر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله(۲) یې مله(۳) ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

دځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډګیا(۴) سوسر(۵) دی

---

۱- اوکړ= اولال، ۲- ډله= ګوند، ۳- مله= ملګري، ٤- ډګیا= لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر= د ډېرو سپیاکو اوږچې نری نری لوګی کوي.

چې ښې راته ښکلې بدې ښې
وابه نه ځلي توري څڼې
په ګڼو نوي پسرلي شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تورګټ سوي ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو ختې يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دې سمې
چونګ اېره يې پاتې شوې
وې انکار د درنې ستې
حق ننګونو ته وريتېږي
د بې ننګ هر کاله بټې
لات منات چې ګوډاري څوک
شي پخپله يې ګټې

خړې، ځکه شوې، خیالي نه شوې
د «لا» شي ځني شی نه شوې
د جنس ترغي نه نا مینده
ټل نجه شوې کنی نه شوې
تشه شخوله - خالي تیکی
بمبل توره، توبرې نه شوې
له حجرې تر سرې راغلې
لا په «زه یم» سرې نه شوې
له مذهب چې ملستل دی
لدې مړیني ژوندی نه شوې
انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوې
مسنکیرې درته آسمان دی
ځکه باز، باتور زی نه شوې
هر آدم چې دی فرعون کړ
يې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی- نقش
۲- ځانوکی = ځانواکی

○

د وګړو سالار پېر دی
خو سواره چې شاهسواران کړي

د کوځو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي

کوګوشتان داومو ختنو
سندان سري اتلان کړي

لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپېچ واړه یو ځان کړي

چې سړي پې نه سړی کړل
راغوزار هغه بُتان کړي

دلالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي

چې جس من پکې قدر پرې
راد بر هغه دوران کړي

دا د نوم مسلمانان ټول
په رېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د ښار کلونه راتو کیږي
سره پوپینو دلاله یکې جوړه ده
ننګيالي دي چې دلوی څښتن په تاړي
پوره ترې کړي د نړۍ ټوله باره[1] ده
ته تنزړي يې، دنیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره[2] ده
غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي
زرغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده
هوښايي[3] په تړوند دی، ښکارترښي
که نه يې نن هم پرته هغه دوګزه ده
دګزی غشی[4] دي هر وختې په سر دی
په دیدوان[5] باندې دي اره پره، وره ده
صبا انبکه دشولان کتو ته منتې
که دي نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره= مسئولیت- ذمه واري- پړه، ۲- اداره= وړانه- کمتي- لوټې،
۳- هوښايي= ښکاري، ٤- دګزی غشی= دوړې پرې ګوزار،
۵- دیدوان= شیش- څیرکوټه.

لکه خلق هسې ټولنه

لکه کوږ هسې يې غار

لکه اوبښ هسې يې سورې

لکه پښه هسې پیزار

لکه باز هسې يې ماري

هسې باز لکه ميشکار

لکه ږيره لاوڼ هسې

لکه سر هسې دستار

لکه توره هومره ګټه

ترشه هومره څومره کار

داوچت الوتو پانګې

د شهپرو په مقدار

ده يوې ړنا تر کوره

نمر په ټول جهان اوڅار

د بې ننګه په رنګ ده پر وې

ننګيالي نه لري سار

چې د لارې او ښکو نه وي

په هغو جوړېږي لار

لاپې ډېر وګړي کاندي
يو منصور خېژي په دار
د بې متو وار څنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمـــرو نه اخستلي
سوړلنډي[1] شي کله ښکار
د اَتیانوس باري وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو وزګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربېنونه[3]
مذهبیان د خپلي ماتي بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چي مذهب يې رواسته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چي ځان لره دوړېږي
دي عبث د انځوړونو کړاوونه.

---

۱- سوړلنډی = ګیدړ، ۲- کړمار = یو غږ دی، ۳- غربین = یو توپک،
۴- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب يې چې تو دې وينې کټکل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي يې په نيش دي امتونه

د مذهب د غونډلانو[1] تنستو کې
ګل ډيوکې[2] دي د علم د يوټونه

له مذهبه هګ ځلمي ټول ريزکي شي
ريزکونه کله کيږي لوی کارونه

ټکی ټکی د کتاب نن هم هغه دی
خو مذهب ترې نه وبنکلي دی ساهونه

چې تر څو دغه مذهب او د ملا دی
وي تالا به د تالا قاموسونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده
تورباز دی تيغ بندي ده

له باطل د ځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غمی

۲- ګل ډيوکې = د ګل ډيوې

له فطرته دې پرده ده

له فطرت دې سرزوري ده

کلیمه دې سرتوب دی

سرتوب دې سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که

دا له وارو ورسته شوي بیا لوړي که

دا چې خاورې یې له مخه نه چاڼیږي

د سپوږمۍ په دود غوڼې یې پرقندي که

ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي

له ټولیز ژوندونه ورکه ګوند ګوندي یا که

شاه میرونه له زګونو ستورو تیر شول

بېړۍ را ښکه خپل ملګري ګړندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کرېندي که

د پسرلي درنه وریځه شه په خوی کې

ځان ورښت، ګله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلګونه» بیا زغمل په ډال تندي که

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوړو کاګیره تلل نه ده
دا ایلتیانو(۱) کلي وړانول نه ده
د راسمنانو یې سمول نه ده
که اوندي(۲) جوندي د دوپړک(۳) وي
دیکرنګانو غوښي کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چو رنګورکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي(۴) کړان کړي
نو کلیمان یې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) ښول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانی پیدا کوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړونکی چې غوښې سرنې نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موزیکی = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پرې ډک وي، ٥- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په څوشهپرو خپلولو
منبګيرک او غليواز نه باتوريږي

د يو بُت په لړيدلو بُت غليمو!
سومنات نه په کعبو کې نه بدليږي

له کيکره د نښتر پيوند خوړوکي
نښتر هيڅکله نښتر نه پاتې کيږي

چې په پړو کو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا وي
دغه سوي چنارونه نه تانديږي

د قرآن واړه ريښتلي عقيدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهيږي

د تيروسره ملستي بناپيرک نن
د ريا په تکي مرګ ته ببريږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي

د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه

مرئیتوب نه - ملګیري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته

په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی

یومخیزي[1] ځیکو وړه ځوانان غواړي

کشالې غوښتې نورې د آدم دي

ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کټې نه شي

د ژوند ستونځې مېړني قهرمان غواړي

په یو مار که کاوزشي، سود یې نه شي

چې ژوندي وي نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزي = چې مخ یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس

چې ه پر اوچت اوچت ښکارونه کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]

کراولي کړي، یرغلونه کوي

لوګیز[2]، اوریزه[3] که یې لاره نیسي

له الوت کله پرهېزونه کوي

رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن

بریښ دڅرونده تومن ښخونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرانول

برهغه قام، چې داکارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولې

د هسکو سترګو معاشونه کوي

عقل بهیر کړ غوڅ ځنګې د شعور

ویرو ویراني ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي

د بل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګیز = دګازوریځ یا نیبولا،

۳- اوریزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په څنګ کې، فطرت په ترڅ کې
تښتي ځاندي وي، زور یې او به وي
عقل یې شل وي، هڅې یې کټه
په غتو ګوري، ولې ړانده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو دقط نه وځي
نه یې خواږه وي، نه یې تراخه وي
په "نن په "زه یم" دوارو نیستمن شي
ځوراک یې خساک یې څواره او څښنه وي
په زاړه شخوند کړي، نوی ترې نه شي
نوی بريد ورته خو د مېړه وي
چې یې ړاغوند کړي واړه کړلي
دیو ګنجکی دا زړښت نه وي

دلسوکینو دلروپون نه

اوړین ستوري راغونځیږي

ستورتیلیږي سروهي لا

کائنات لا پراخیږي

که یو ستوری ورژیږي

نوی سل زلو تهوکیږي

دځوندون زرغوندوله

نوی ځمکی سادینیږي

چرته ځوند دی په بخښنچه

چرته کچ، چرته ځوانیږي

د زرها ستورو میروکي

دځوندون غږی غږیږي

یوه ستا داځمکه نه ده

چې ساه دار پکې هستیږي

شخړې ځمکې سنکته بورته

ستورتلیږوکي څرخیږي

هغه ځمکه ستا دوتر دی

چې دې لاس وروړسیږي

عقوبت به له دې ځمکې

درته کږې په سر کېږي

د مېږونو ستورو بېړۍ دي

له سپوږمۍ و ستورو تاوېږي

د يو نوي کور لټون کې

د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکني به

ستورکۍ زوته ورسېږي

د ژوندون څومره رازونه

به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې کړې په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستوربیښون شي

د اولس وینې ړنبېدونکي هله ورک شي
دربړیا[2] اولس چې کله په پاڅون شي

داو یارلي شلې هسې ولاړ نه دي
د مړدي کارونه ډیر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وربوري
قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبی هرڅارون شي

چنیشني[3] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو ټولنه مړیستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خوار- نتلی- ځپلی،
۳- چنیشني = چې چناسکې پکې شوي وي، ٤- مړیستون = هدیره .

د دوړان په زلزلو غرونه رارغړي
په شکلني ډېروکي څه له وياړېږي
تلناوونه يي رواسته، موږى خوړلي
چاڼ کېږدى کي به ترڅو پوري اوسېږي
ډ پړنسبتر په چورلندو ځمکي له تللي
کچه ډيلي! په خپل خېزڅه غلطېږي
د سورسين چپي دمه وښکه له يادو
اى فرعونه! چي کليم ؑ پسي پاڅېږي
د ملخ ځانګ سړ دي ملاشوله دوه غبرګي
ته لا ځي د آتي بار ته لاندي کېږي
لا اله بتکو رکوته ښکرپوکل دى
که مؤمن يي تروروستي بُت به جنګېږي

کله یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کله د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته دګډو خپور لښکر شي

کله لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هرې سرخیړۍ[2] وتلي سر شي

د هر کور انغړی تود، تیاره شي وړکه
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[3] د عیسٰی چې نمړې وخوري
که د خټو کوګوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چېغې هم د بدر لېچور شي

---

۱- لَړ = کوز
۲- سرخیړۍ = د جنګ غالي سرپه
۳- تونګ = شکور

د غلیم د برید او چیغي[1] حاجت نشته

لاس تر کریوو چي پخپله سنګروال شي

د کور، قام بدخوړمنځي[2] په ځان ناتاردي

په تیغه که باتوران وي تش پیچال[3] شي

تا ننګ د کتي، د یرغل یې د لاس وځي

چي د چار اتلولنکي توري نه اتال[4] شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه

د روڼه لو چي څوک نه وي کوتي لال شي

ځماتونه، مدرسې او چمني د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

چي د خاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسیرن شي

په اجل باندي بجل را شي

بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه= ایه، ۲- بدخوړمنځي= بې اتفاقي- اروپېچ، ۳- پیچال= د باتورغُل- غړبازه، ٤- اتال= په طمع- په اسره- معطل- ایسار.

دژوندون دغورځنګونولوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ اونه آسمان دی

دفطرت غیږه پرانستې ده هرچاته
بود دهرچا هم په قدردخپل توان دی

دا په تاده جوړوې کاڼی که توره
خپور چاپېره دجنګړیز واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې تولي اړ په مټ دي
مټ کول دبنیادمو پوړ په ځان دی

چې یې زده دسورکو وینو کښېدي دي
دهوهي ډاڅه کمي پدې جهان دی

دباتورلمڅي دنیا ده بېله بېله
یو دځوړې، بل دلوړې وږي (۱) شان دی

چې سرهزي دنوښت (۲) یې په لاس درکې
دلوی برید په ښداره دی اوس یزدان دي

---

۱- وږي شان- وږي انوونکی، ۲- نوښت- پيلات- ابتکار

چې د "زه یم" ښتول رنګونه

یکمانه شي یکرنګ شي

لکه غوندې چې چړې شي

اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل ښکونه یې چې یو مخ شي

"زه یم" هله خان دوران شي

کائنات کړي د پښو لاندې

سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې

لکه بُت سلګون سرې وي

آدم زی شي سل لاریزی

له یو دره سل درې وي

○

(c) kolabeen.com: The Digital Library

د توریال زړې راخېژي په سوسرکې
د هوډې هڅې وباسي لاړې غرکې
توربرېښنونه يې پخپله غماز کړشي
مېړه کله پټېدې شي په لښکرکې
"ستوروونا"[1] کرښې د ځمکې کړلې ماته
ښخوي بيرغ د ستوروخپل دوټرکې
مرجونا د ننګالوله کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدې څادرکې
زړې خوږه په يوماري وړپېوځي
بله ماره يې نيولې وې نظرکې
مړدکې ، دارو، بټک او اوربشينه
دغه توکي د مېړونو وې سنګرکې
هره ونه خپله مېوه نيسي
چامونډلې دې کروسکي په کيکرکې

---

۱ـ ستوروونا = ( په وزن د مرجونا ) د ستورو ښکاری

زردار هغه کورکښان دي
چې ړوندي بنیاد مان خوري
سرې څوړ په پټه یې نه خوري
سبه برسېر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري
یووَری یې په شا پروت وي
بل شپې لښتې بارګیران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمت یې بې کسان خوري
روایات راپاخښه د لي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان واره خپل ځان خوري

چې په منځ د هوډ یالو ځي
لار یې خود کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو توره لاشې وي

چې له اوره ځني وانه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګړیزې ژوندانه وي
د برم ډکې یې شملې وي

چې د مټ مجال یې نه وي
د هغو ناندرې ګیلې وي

د باتورو هغې ګوره
څه که یو موټی بینې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړیانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندې پرکې وي

چې وهي د تنکسي تـوري

په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ، ستوري، ستور تلینې

د میړونو برآمـتي وي

د سر هسکو غرو ځنګونه

د تاریخ زرو زرینــي وي

د اخلاص د شاهسوارانو

منزل لوی، لرې توبنې وي

چې منګل یې د زمرو وي

د هغو ماري سـکې وي

په راسمنو باندي غرونه

د مالوچو پاغوندي وي

پرناوري سـنکر بایـلي

وینې ستري پلیتي وي

دوزنګ تنبتي کُن پرځانه

چې د بدرنیسي وي

د میړونو لوی لاسونه

خپله توري او بلـلي وي

د ګیدړو په نصیب کې

د زمرو پاتي درنګي وي

Reserved -1

چې يې پښې وي غزولې
د هغو ډاکې سپېرې وي
چې له ژوندنه ماتې وخوري
زور يې ټول په موسلې وي
د مړژواکو مسئلو کې
هم د مړو مړينې کيسې وي
کوښې هم ځان سره کوږ کړي
چې يې خپلې پښې کږې وي
ديو روغ د سيالۍ نه وي
د ړندو که پړکنې وي

○

قام دلې دلي تورو توربرېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی
هر دليت خپلې دلې ته سنه والي
دغه دستور د دله بازۍ دی
پلويان راوړي، ناحق په حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د ليړۍ دی
چې "جرګه غړي[3]" ټول شته منان وي
وار هم واد دی وندۍ وندۍ دی
کاواکه دروغ واکمنې دلې
څوک يې د مخې د کاواکۍ دی
د "سلاغونده[4]" سپيڅلي لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = ديموکراسي.

۲- قامي جرګه = پارليمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

٤- سلاغونده = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شروند یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلی ناوسنګی په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلی
سالاري یې په نري پوري قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپېره یې د سینه سرېتوب ډنګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملازی ورکړه
خپل پردي یې په نمانځنه باندی رنګ دی
د زیارت خورډو ته ناسته بې کتابه!
ستا کور لاري ولایت د پلي لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دی
او ملا د بې دلیل مذهب امام دی
روښانان خیاله نه کافر دی، نه مونکی
د تسپو سره ګروان یې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي د که
چې یې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړی توی ترهیږي، ځي په دده
چې ملا و رښکاره کړي کوم اسلام دی
لیشتکی له لیشتکی مفکوري زیږي
ځان وګوره په جهان دي څوموږ سام دی
مذهبونه په کړي د نیستمانو
دښته منو دخوندي[1] کتوسمام[2] دی

○

خدای څروندی مال یې میرات دی
څه یې کچه ناروا دي
دي دهولوچې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
داد الله د دوران سر دی
دوتریان چې په کړ بادي
د هغولچې تاوېږي
له پیرونه چې په غلا دي
له زما، له زمایي نه
پساتونه په دنیا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بندبنا

چې لسین ترې لاس نیو کړي

شاه میړونه د الله دي

امانت د اولیا دی

چې له تا ځنې سوا دی

چې د حق او د باطل ډغره راشي

د بې لارې پلار نیکه په لاره مه شي

چې توره[1] یې د بتانو لرول وي

خدای دې وکوماري ته هغه میړه شي

چې یې غل غدو له ویرې بلوسه کړي

په مور چلو د قام ویښ هغه لیمه شي

چې مړه واکې ولسونه پرې رغېږي

که یې سل ځله توکې، هغه تارخه شي

څه زرغې زرغې کوې چاقهرمان ته

که ملا وتړې، هغه توریال به ته شي

غرونه غرونه واورې هله به شي ویلي

چې د نمر پشان پرې سور په ایشېدو شي

چې یوه پلار ګنې وماني اولس ټول

ته به هم د اولسیاسو[2] په وله شي

---

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په وله = په ډوډۍ- په بنه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم بالـه شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشې بیا پلوشېنې شــولې
د سربښندنې کرامت وکـــوره
د ازغو غېبې ګلــوړېنې شــولې
د پلار خېرې دې کائنات دې واره
کاش چې دې تورې بیا پلرېنې شولې
با تورزي خپله به راوزيږي وي
که دېروکې دې مابښېنې(1) شولې
غراو راغه يې ښخ مــلي ونيول
چې د زمري ستوکې تندرېــنې شولې
د تورانې لېونې کړيکې ســره
څانګې غرانګې سندرېنې شولې
چې بيا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمــرېنې شولې

---

۱ـ مابڼ = یوغر

○

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي
او وله لوټي په پنډه کله پیدا کیږي

په خوږ لن کي له بحر کو توغړیدونکو
تر آسمان شړه کوونکي او تاند بـزي

چي بي نو دتني وچ ځیلي شړوستي شي
په کږ وږو شیبو نه راتو کیږي

د مذهب په ګڼ خوړ لولختو لهړو
د سر سوري دقاموتونه جوړیږي

هیڅ ځلمی بو یه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

○

مړه یو کي مذهبونه
لاړي پانه شي رهنولي

د بوزرم انقلابونه
آذر نه شي راوستلي

○

دشړوندون او بزدي کیسوله — کائنات به چانول وي
له موجود ځني پیشسابه — تر لوکیزي پوري تلل وي

○

○

چې په هغو ښهرونو کې

چې پرې کړي وي وختونو

ګویا ځان لره توزیز[1] کړي

د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سوړ شته

د خلیل مټ دی تود او سه

د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقیدو ښار کې

انقلاب را برسېرن شي

د زړو خدایانو مخ چې

ولسات ته کرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی

بتګورونه رانسکور شي

چې د زړونو په وړشو کې

